# كله چې تاسو اذان واورئ، نو تاسو هم د موذن په څېر هغه ووایئ چې هغه یې وایي

له ابو سعيد الخدری رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: "كله چې تاسو اذان واورئ، نو تاسو هم د موذن په څېر هغه څه ووایئ چې هغه یې وایي".
[صحيح] - [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم موذن ته په ځواب ورکولو تاکید کوي کله چې ورڅخه د اذان الفاظ واوریدل شي، داسې چې مونږ هم هغه څه ووایو چې هغه یې وایي، جمله په جمله، کله چې هغه تکبیر وایي، مونږ ورپسې تکبیر ووایو، او کله چې شهادتین ووایي، مونږ هم ورپسې دواړه شهادتين ووايو، لدې څخه د ( حي على الصلاة، او : حي على الفلاح ) الفاظ مستثنا دي، ځکه د هغوي پسې : لا حول و لا قوة إلا بالله، وييل کيږي.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee